نبوي څلاوي:

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي:
ژباړه: ستاسو څخه ډېر غوره هغه څوک دي، چي د خير طمع څني کېږي او د شر څخه يې خلک په امن وي.
«سنن الترمذي»

طلوع افغان

غوره خبري:

حضرت علي کرم الله وجهه:
تر ټولو لوی خيانت، له قوم سره غداري ده.

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"
د امتياز څښتن: د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست
په اوونی کي دوه واره چاپيږي

د تأسيس کال: ۱۳۰۰ لمريز، پنجشنبه ۳۰/ذي الحجة الحرام/۱۴۴۶هـ ق، ۵/چنګاښ/۱۴۰۴ل کال - ګڼه (۱۴)
Thursday-26-June-2025 Issue: 14

د مطالبو سرليکونه

- د امريکا او انګليس له خوا... (مولوي نورالحق "مظهري")
- مادي وسايل؛ د آزادۍ... (صابر جان محصل)
- په ساينس او ټکنالوژۍ... (مولوي محبوب شاه "ساجد")
- د خوشحال خان خټک د... (ګل احمد "جلالي")
- يوه پوښتنه او د هغې جواب (نور احمد "قرآن مل")
- څو حالتونه سخت زور غواړي! (مغفور شهيدزی)

د کندهار د رواني ناروغانو په مرکز کي د سوونو ناروغانو درملنه او ساتنه کېږي

د کندهار د رواني ناروغانو د درملني او ساتني د مرکز په داخل کي د ۱۷۵ او د دې مرکز څخه د باندي په کورونو کي د ۱۵۰۰ ناروغانو درملنه او ساتنه کېږي. د ياد مرکز څخه په دې وروستيو کي ۲۰ تنه رواني ناروغان بيرته عادي حالت ته ګرځېدلي او خپلو کورنيو ته سپارل سوي دي.

د طلوع افغان خبريال ياد مرکز ته ورغلی او په اړه يې راپور جوړ کړی دی.

د اوسپنيزو پنجرو په داخل کي په آبي لباسونو کي ځوانان، د پاخه عمر کسان او ځيني سپين ږيري ليدل کېږي، څوک لمونځ کوي، ځيني په لوړ ږغ زمزمې کوي، نور بيا نارې وهي، ځيني آزاد ګرځي، خو يو شمېر يې بيا په ځنځيرونو تړلي دي، دوی د هغو ۱۷۵ تنو رواني ناروغانو له جملې دي، چي د کندهار د رواني ناروغانو د درملني او ساتني په مرکز کي يې درملنه او ساتنه کېږي.

د ياد مرکز عمومي مدير مولوي عطاء محمد فرقاني وويل، ياد مرکز د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د مرغومي مياشتي پر اوومه نېټه د زون په کچه فعاليت پيل او په دې مرکز کي د کندهار، هلمند، روزګان او زابل ولايتونو د رواني ناروغانو درملنه تر سره کېږي، چي په لومړيو کي په دې مرکز کي د ۶۰ تنو رواني ناروغانو درملنه او ساتنه تر سره کېدله، خو اوس يې شمېر ۱۷۵ تنو ته رسېدلی دی او د مرکز څخه د باندي په کورونو کي د ۱۵۰۰ ناروغانو درملنه کېږي.

د هغه په قول، د مرکز په داخل کي د ۱۵۰ نارينه او ۲۵ ښځينه رواني ناروغانو درملنه د شپږو نارينه او ښځينه ډاکټرانو او همدارنګه اتو نارينه او ښځينه نرسانو له لوري په جلا-جلا ځايونو کي تر سره کېږي.

فرقاني د نړۍوالو بنسټونو څخه د دې مرکز له پاره دايمي ودانۍ او د ملي سوداګرو څخه د ناروغانو د درملو په ورکړه کي د همکارۍ غوښتنه درلوده.

دې مرکز ته د هلمند ولايت د نوزاد ولسوالۍ څخه ۳۷ کلن عبدالهادي شاوخوا پنځه مياشتي مخکي د پلار او اکا له لوري را وستل سوی و.

عبدالهادي وويل، تقريباً د ۱۳ کلونو راهيسي په رواني ناروغۍ اخته و، خو اوس تر ډېره پوري عادي حالت ته را ګرځېدونکی دی او خوښي يې ښوولې چي په دې مرکز کي يې په ښه ډول درملنه او ساتنه کېږي.

د هغه په خبره، د ناروغۍ پر مهال په ځان نه پوهېدی، ژړل يې، کالي يې پر ځان څيرل، نفستنګي يې کېدله او د تداوۍ له پاره ډېرو ډاکټران ته بيول سوی و، خو نتيجه يې نه وه ورکړې او د خپلو خبرو پر مهال يې خپله لمن پورته کړه او پر خپل نس يې هغه ځايونه ښکاره کړل چي عمليات سوي ول.

هغه وويل: "په روغتون کي يې تريخي ناکي په ناکي (ناحقه) را څخه وکښی، دغه اپنډيکس يې دلته ناکي په ناکي را څخه وکښی، د

۴مخ

د ملالي ميوندۍ د مقبرې د ګنبدي جوړولو سروې وسوه

د کندهار ولايت په ميوند ولسوالۍ کي، د ملالي ميوندۍ، د مقبرې د ګنبدي د جوړولو لومړنۍ سروې تر سره سوه.

د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رياست د هنر او فرهنګ آمر عبدالشکور څپاند ويلي، د ملالي ميوندۍ د مقبرې د ګنبدي جوړولو لومړنۍ سروې، کندهار ته د اطلاعات او فرهنګ وزارت څخه د راغلي پنځه کسيزه پلاوي له لوري تر سره سوه، چي په ياد پلاوي کي د اطلاعات او

۴مخ

يو روغتيايي مرکز ګټې اخيستني ته وسپارل سو

د فراه ولايت د عامې روغتيا رياست مسئولينو ويلي، د دې ولايت په انار درې ولسوالۍ کي د ۳۵۰ زره ډالرو په لګښت، د يو روغتيايي مرکز د جوړېدو چاري بشپړې سوي دي.

د ياد ولايت د عامې روغتيا رئيس مولوي مير صدام باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي، دغه روغتيايي مرکز د يو کس په شخصي لګښت د ۳۵۰ زره امريکايي ډالرو په لګښت جوړ او ګټې اخيستني ته سپارل سوی دی.

د هغه په خبره، د دې روغتيايي

۴مخ

له لسونو بزګرانو سره د تخم او کېمياوي سره مرسته وسوه

د کندهار د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست مطبوعاتي مسئول محمد حنيف حقمل ويلي، د ياد رياست له خوا د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په لارښوونه او مالي ملاتړ، د کندهار ښار په پنځمه، شپږمه او ۱۵ مه ناحيو کي ۲۰ تنو بزګرانو ته د جوارو د نمونه يي کرني په موخه د جوارو تخم، کيمياوي سره او نغدي پيسې ورکړل سوې.

د هغه په خبره، هر بزګر ته اته کېلو ګرامه د جوارو ژر رسېدونکی وراينې تخم، ۵۰ کېلو سپينه سره، ۳۰ کېلو توره سره او ۱۰۰۰ افغانۍ نغدي مرسته ورکړل سوه، ترڅو ياد تخمونه پر خپله يو جريب ځمکه په کتاري ډول وکري.

د حقمل په قول، د دې نمونه يي کرهنې څخه موخه د جوارو د کتاري کرهنې ازمايل، د نمونه يي کرهنې له لاري نوي طريقې معرفي کول او له بزګرانو سره اقتصادي مرسته ده، ترڅو هغوی د نوي کرهنيزي طريقې تجربه وکړي.

د يادوني وړ ده، چي تېر کال هم د کندهار ولايت په اوو ولسواليو کي ۷۵ تنو بزګرانو ته د غنمو د نمونه يي کرهنې له پاره ۲۵ کېلو ګرامه تخمونه ورکړل سوي وو، ترڅو د غنمو کرهنه تر سره کړي او پايلې يې له کرهنې رياست سره شريکي کړي.

اسلامي امارت د افغانستان په تړاو؛ د ملګرو ملتونو له لوري وروستی خپور سوی راپور ناسم بللی

د افغانستان اسلامي امارت د دې هيواد په تړاو، د ملګرو ملتونو له لوري خپور سوی درې مياشتنی راپورو ناسم او له حقيقتونو ليري بللی دی.

د اسلامي امارت ويانډ ذبيح الله مجاهد په يوه خبرپاڼه کي ليکلي، چي په ياد راپور کي د افغانستان په اړه ناسم معلومات خپاره سوي او هڅه سوې ده، چي د افغانستان د اوسني وضعيت په اړه اندېښنې رامنځته کړي.

د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې، اسلامي امارت دغه راپور ردوي او هغه د ناسمو معلوماتو پر اساس او د پروپاګند کولو په منظور چمتو سوی راپور ګڼي.

د افغانستان اسلامي امارت ويانډ ذبيح الله مجاهد څرګنده کړې:

"په افغانستان کي امنيت اوس تر بل هر وخت ښه سوی او خلک په آرامه ژوند کوي. متأسفانه چي د ملګرو ملتونو او ورته نورو آدرسونو څخه همېشه، د افغانستان په اړه ناسم تصوير وړاندي کېږي او هڅه کېږي چي د افغانستان حالتونه خراب وښوول سي، پر پرمختګونو يې سترګي پټي سي او د کوچنيو پېښو په غټ ښوولو سره خلکو ته اندېښنې پيدا سي."

په خبرپاڼه کي همدارنګه ليکل سوي، چي د ملګرو ملتونو په راپور کي جنايي پېښې، امنيتي پېښې تعبير سوي دي، په داسي حال کي چي دغه ډول جنايي پيښې، په نورو هيوادونو کي تر افغانستان ډېري تر سره کېږي.

د اسلامي امارت ويانډ خلکو ته ډاډ ورکړی، چي د بهرنيو مغرضو کړيو په خوله، د خپل هيواد د امنيت او ثبات په اړه اندېښمن نه سي.

د مجاهد په قول، افغانستان تر هر وخت ډېر امن دی او خلک د شرعي نظام تر سيوري لاندي آرام ژوند کوي.

د اسلامي امارت ويانډ د بېلګې په توګه ويلي، يوازې د تېر لوی اختر په شپو-ورځو کي تر دوو ميليونو پوري افغانانو په هيواد کي دننه سياحتي سفرونه تر سره کړي چي د امنيت، ثبات او د خلکو د آرامۍ د احساس څرګندونه کوي.

بېلابېل موضوعات

مادي وسايل؛ د آزادۍ ساتلو وسيلې دي!

صابر جان "محصل"

څو مياشتې مخکې امريکا ته د صيهونيستي رژيم د مشر بنيامين نتن ياهو د رسمي سفر پر مهال له امريکايي پانګه والو سره په ليدنه کې د هغوی څخه د مرستو او همکارۍ غوښتنه وکړه او پانګه والو هم ور سره د مرستو ژمنې وکړې.

دا هغه پانګه وال دي چې د ټکنالوژۍ، انرژۍ او د نظامي صنعت د سترو شرکتونو مالکان دي او په يادو شرکتونو کې يې هر يوه سوونه ميليارده ډالر پانګونه کړې ده. ياد شرکتونه يوازې په غربي نړۍ کې نه، بلکې له خپلو هيوادونو بهر، په شرق او اسلامي هيوادونو کې هم پراخ تجارتي شرکتونه او فعاليتونه لري، چې په خليجي هيوادونو کې د نفتو د استخراج شرکتونه يې ښه مثالونه دي.

د دغو پانګه والو ترڅنګ، له غربي نظامونو سره د ټکنالوژۍ او په نورو برخو کې د علومو ماهرين، د پوهنتونونو استادان او ستراتيژي پوهان هم همکاري کوي، خو په اسلامي نړۍ کې د دې برعکس، د کار سرې او خصوصًا پانګه والو دغو مهمو برخو ته توجه نه ده کړې او نظامونو هم د مسلک خاوندانو په انسجام او د پوځي صنعت په برخه کې د پانګوني جذب ته کومه خاصه پاملرنه نه ده کړې.

پانګه والو په داسې برخو کې پانګونې کړې چې ولسونو او نظامونو ته يې کومې خاصې ګټې نه دي رسېدلې او خصوصاً په ټکنالوژۍ او پوځي صنعت کې هيڅ پانګونه نه ده سوې.

لکه څنګه چې ولسونه نظامونه رامنځته کوي، همداسې نظامونو ته قوت هم ولسونه او پانګه وال وربخښي.

د نړۍ ستر صنعتي شرکتونه اکثريت خصوصي دي، د ايمان او وجدان د خاوند په حيث هر مسلمان مسئوليت لري چې د اسلامي نظام د ودې، قوت او پرمختګ له پاره کار وکړي او دا يو ايماني، ديني او وجداني مکلفيت هم دی، چې د قوت موندلو له پاره بايد په ټول توان سره هڅې تر سره سي.

په اسلامي نړۍ کې يو تعداد خلک په دې آند دي چې کفري نړۍ د ټکنالوژۍ، امکاناتو او خصوصاً د پوځي صنعت ودې ته له پېړيو راهيسې کار کړی دی او مونږ د امکاناتو په لحاظ، له هغوی سره مساوي کېدلای نه سو.

دا حقيقت دی چې يادې برخې ته به له پېړيو راهيسې کار سوی وي، خو دا هم بايد ومنو چې د ۲۱ مېلادي پېړۍ له پيل راهيسې د مادي امکاناتو په صنعت کې ستر انقلاب راغلی دی. د مادي وسايلو، امکاناتو او تجهيزاتو توليد کومه معما نه ده او نه هم کوم ځانګړی رمز دی چې يوازې به پرديو ته معلوم وي.

د يوويشتمې پېړۍ ماشينرۍ، ډيجټلي پرمختګ، ساينسي ډيزاينينګ او مصنوعي ځيرکتيا په تخنيک کې ستر بدلونونه او ګڼې اسانتياوې رامنځته کړې دي. د موجوده وسايلو او امکاناتو په وجود کې د تجهيزاتو جوړول، د خرادکارۍ او د ماشين آلاتو د ترميم په څېر عادي کار دی، يوازې تحقيق، ازمايښت او عملي تجربې ته ضرورت لري.

تعليم او تحقيق دې د مطلوب جنس په کار، کيفيت او څرنګوالي پوهوي، ازمايښت او عملي تجربه دې تر مطلوب هدفه رسوي. د نړۍ د هر ډول امکاناتو، ټکنالوژۍ او مادي وسائلو اساسات او قوانين يې د هيواد په تعليمي سيستم او نصاب کې تدريسېږي، خبره يې يوازې د زده کړې په چاپېريال، مېتود، استاد او امکاناتو کې ده. هر څوک چې له ټکنالوژۍ سره مينه ولري او د يوې وسيلې په څرنګوالي يې وپوهېږي امکانات پيدا کړي، د کاپي ورژن څخه په استفادې يې په خپله هم جوړولای سي، که بيا يې پرمختللې ورژن غواړي، نو کاپي يې له تاسو سره مرسته کوي چې په پرمختللې بڼه يې جوړ کړې.

تعليمي نصاب نوي والي ته ضرورت لري، ځيني مضامين بايد مطلق وايستل سي، ځيني بايد اضافه سي او لوستل يې د الهي امر له مخې د اعداد په نيت فرض وګڼل سي.

په اوسني عصر کې ټکنالوژي د لايزال رب جل جلاله ستر نعمت دی، چې په وسيله يې ملتونه آزادي او استقلال ساتلای سي.

په ښوونيز نصاب کې بايد ټکنالوژۍ ته په پراخه کچه ځای او اهميت ورکړل سي، تر څو په دې اوسنۍ خونخواره نړۍ کې د ژوند کولو جوګه وګرځو.

د امريکا او انګليس له خوا د اسرائيلو احتمالي ننګه

مولوي نور الحق "مظهري"

داسې ښکاري چې امريکا او انګليس د اسرائيلو ننګه کوي او په پلوۍ يې پر ايران بريدونه کوي؛ د دې څخه داسې ښکاري چې د ايران بريدونو اسرائيلو ته ډېر زيانونه اړولي او د دې اټکل کېږي چې اسرائيل دې په نظامي لحاظ، ضعيف سي او په يوازې ډول دې د ايران په وړاندې جګړه و نه ګټي.

د کومې ورځې څخه چې د فلسطين پر مځکه اسرائيلو ځان ته حکومت جوړ کړی دی، د هماغه ورځې څخه امريکا او انګليس په ټول توان سره د اسرائيلو ترڅنګ ولاړ دي او چې د هر چا له خوا اسرائيلو ته ګواښ متوجه کېږي، امريکا د هغه په وړاندې د اسرائيلو مرسته کوي، لکه: د عربو او اسرائيلو په جګړه کې چې امريکا او انګليس په تمامه معنی له اسرائيلو سره ولاړ وو او يا لکه نن چې د ايران په وړاندې له اسرائيلو سره دريږي.

تاريخ ته په کتو داسې ويلای سو چې ايران اوس د اسرائيلو لومړی هدف دی، که ايران ته ماته ورکړي، دستي به د سيمې نورو هيوادونو ته هم لاس اچوي او د ځان په وړاندې به ټول احتمالي ګواښونه له منځه وړي.

د اسلامي نړۍ هيوادونه يې اوس ننداره کوي او ځيني خو لا له اسرائيلو سره مرسته هم کوي، خو دا په يقين باندې وايو لکه د اسرائيلو چې دا لومړنی بريد نه دی، وروستنی به هم نه وي، بلکې نور اسلامي هيوادونه په خاصه توګه، نسبتاً قوي هيوادونه به هم تر بريد لاندې نيسي.

کاشکې د ځينو اسلامي هيوادونو مشرانو د عقل څخه کار اخيستلای او اخف د شرينو يې پېژندلی وای، تر څو د اسرائيلو په وړاندې يې معقوله پاليسي غوره کړې وای، د ځان او نورو اسلامي هيوادونو راتلونکې يې د اسرائيلو غوندې تېريګرو څخه ساتلې وای.

په ساينس او ټکنالوژۍ کې له نړۍ ۵۰ کاله وروسته پاته يو

مولوي محبوب شاه "ساجد"

د ټکنالوژۍ په برخه کې پر مسلمانانو فرض، فرض، فرض (فرض کفايي) ده، چې خورا جدي کار وکړي، مونږ بايد حتماً داسې ټکنالوژي ولرو چې په هره برخه کې د ټولو مسلمانانو دفاع ورباندې وکړای سو، يوازې د يوې برخې د مسلمانانو دفاع نه، که چيرې ټول مسلمانان په اتفاق سره په کافي اندازه (له غرب سره مساويانه نه) ساينس پوهان او قوي ټکنالوژي و نه لري، نو بيا د کفايي فرض په ترک سره ټول ګنهکار يو.

د الله تعالی نصرت به څه وخت را سره مل وي:

د الله تعالي د نصرت د جلب له پاره لاندې شرطونه پوره کول لازمي دي:

۱ – قوي ايمان او پخه عقيده.

۲ – عملاً د الله تعالی د دين او مسلمانانو د نصرت له پاره فکراً او عقيدتاً چمتووالی.

۳ – د ټولو يا اکثريت مسلمانانو اتحاد.

۴ – فکري او نظامي اعداد يعنې ټکنالوژي ترلاسه کول.

څکه که ۱ – ۲ – ۳ نه وي، نو ټکنالوژي خو کفار هم لري او په دې برخه کې تر مونږ پنځوس واري مخکې هم دي.

آخري بريا به د چا وي؟

که خبره يوازې تر نظامي او ټکنالوژي قوت پورې منحصره وي، نو هغه خو مونږ ګورو چې په دغه برخه کې د نړۍ والو قدرتونو تر منځ، يو بې پايه مسابقه روانه ده، هر يو څه موده وروسته د مقابل د ټکنالوژۍ دفع اختراع کوي او دا خو ممکنه نه ده چې دغه تسلسل دې لا يتناهي وي.

په خورا ډاډ او يقين سره ويلای سو چې آخري بريا به د هغه چا په برخه وي چې ۱ – ۲ – ۳ ولري له ۴ سره، دا ځکه چې معنويت د ماديت نيمګړتيا پوره کولای سي، خو يوازې ماديت د معنويت نيمګړتيا هيڅکله نه سي پوره کولای.

د خوشحال خان خټک د ديوان نومښود

ګل احمد "جلالي"

شپږمه برخه

بلبل:

مخ يې ګل دی زه بلبل يم
تل بلبل د ګل ثنا کا

بلبل چې په انګليسي کې ورته Rossi bonl وايي او علمي نوم يې Luscinia Megarhynchos دی، يو مشهور کوچنی الوتونکی مرغه دی، چې د خپل ښه آواز له کبله، د نړۍ ډېر انسانان يې خپل ښکلي ږغ ته متوجه کړي دي.

د بلبل پورتنۍ بڼکې قهوه يي، د سينې بڼې يې بيا لږ غوندې ژړ رنګ ته مايلې دي، د لکۍ رنګ يې تېز قهوه يي دی، د بلبل ښځينه يعنې بلبله د رنګ او جوړښت له امله له بلبل سره خاص فرق نه لري، فقط تر بلبل لږ کوچنۍ ده.

د پښتو ژبې ډېرو شاعرانو په خپلو اشعارو کې د بلبل يادونې کړې دي، چې بېلګې يې په لاندې ډول دي:

شمس الدين کاکړ ويلي:

بند د هجر په قفس زه شمس الدين يم
آه فرياد لکه بلبل کوم بې تا

(ديوان ۲۹مخ)

ملا رحمت الله بابا ويلي:

د حرم د باغ ګلونه چې يادېږي
غبطه نه ورته لري د مخ بلبل ستا

(ديوان ۲۹ مخ)

مولوي عبدالغفار بريالي ويلي:

که پر مخ يې د شبنم سترګې وي خلاصې
دا چمن به لولپه کړي د بلبل آه

(اهار ۱۱۲ مخ)

احمد شاه بابا ويلي:

زه او بلبل دواړه په فراق کښې احمد شاهه
د زړه ارمان زموږه د خپل يار د مخ چمن

(ديوان ۶۹مخ)

د فارسي ژبې خورا نوميالیو شاعرانو هم د بلبل او بلبلانو يادونې په خپلو کلامونو کې کړې دي. د نمونې په توګه ميرزا عبدالقادر بېدل ويلي:

دل وفا، بلبل نوا، واعظ فسون، عاشق جنون
هر کسی در خورد همت، پيشه پيدا می کند

نادر هروي ويلي:

گل زد آتش آشيان بلبل غمناک را
تا بسوزد خرمن مشت خس و خاشاک را

عطار نيشاپوري ويلي:

بلبل شيدا در آمد مست مست
وز کمال عشق نه نيست و نه هست

بلبلان همېشه زرغونه او سرسبزه ځايونه، نرم اقليمونه او آرام چاپېريالونه خوښوي.

بلبلان د نړۍ په ډېرو هيوادونو کې پيدا کېږي، لکه: افغانستان، هندوستان، يونان، ايران، آذربايجان، سوډان، ارمنستان، لبنان، انګلستان، ترکيه، فرانسه، هسپانيا، اسرائيل، عراق، بلغاريا او داسې نور.

بلبل هغه مرغه دی چې په زړه پورې آواز لري او هزار داستان بيا هغه بلبل ته ويل کېږي چې د ډېرو او ډول – ډول ږېزونو او آوازونو کولو استعداد ولري.

د اردو ژبې ډېرو شعراوو هم په خپلو اشعارو کې د بلبل خورا ډېره يادونه کړې ده.

لړۍ ادامه لري...

يوه پوښتنه او د هغې جواب

نور احمد "قرآن مل"

ولې د اسلام ستر لارښود حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل دعوت او مبارزې لړۍ يوازې د خپلې کورنۍ لپاره نه وه انحصار کړې؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم د يوه نړۍ وال خواخوږي پشان په دې خاطر ددعوت دا لړۍ تر کوره منحصره نه کړه چې هغه يوازې د کور غم نه وو اخيستئ د هغه پراخ نيت او پراخه پيروزوينه دا وه چې د کورنۍ محيط بر سيره د خپل محيط ټول وکړي د انسلام د نيکمرغه دين په پلوشو روښانه سي او د بشري ژوندانه تر منځ يو ښه انسجام په ټولنيز ژوند کې قرار ولري او د ټولنې غړي يو له بله د صميميت ژوند ولري.

څو حالتونه ډېر زور غواړي!

مغفور شهيدزی

۱ – هغه حالت چې انسان ته خپل ځان او شخصيت دروند وي، خو د دروا غو يا نورو جرمونو له امله خلکو ته سپک وي.

۲ – هغه حالت چې انسان په ټولنه کې د خپل نېک شهرت او وقار له امله، خپلې اړتياوې او ستونزې چاته نه سي ويلای.

۳ – هغه حالت چې انسان اولادونه، دوستان، شتمني، علم، مسلک، کسب، تجربې او نور مادي او معنوي امتيازات ولري، خو استفاده څنې کولای نه سي.

۴ – هغه حالت چې له خلکو سره ښېګڼه کوې، خو هغوی دې نه سي درک کولای.

اعلانونه او خبرتیاوې

دورکي اعلانونه

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د نوراحمد د فیض محمد د زوی او د فضل محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700703770

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د سایره دا ختر محمد د لور او د شېر محمد د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0707364451

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د عبدالولي د حاجي میرزاخان د زوی او د عبدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0748799405

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د تاج محمد د خواجه محمد د زوی او د فیض محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700489914

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د شبانه د محمد ابراهیم د لور او د محمد علم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700303962

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د وزیر محمد د اختر محمد د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703210323

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د نور احمد د میر احمد زوی او د پیر محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0706050480

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د عزیز احمد د صدیق احمد د زوی او د شېر احمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700356675

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د عنایت الله د عبدالله د زوی او د محمد اسلم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700444611

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د محمدرسول د عبدالغفور د زوی او د پیر محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0705493164

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د محمد امین د غلام سخي زوی او د محمد یاسین د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0704813342

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د جمعه ګل د نظر علي د زوی او د صفدر علي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703157853

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د لالي ماما د غلام یحیی د زوی او د انبیاء د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700203529

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د عبدالقیوم د محمد اسلم د زوی او د عبدالاحد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0706088518

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د عبدالغني د میراجان د زوی او د حاجي سعید د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0701434252

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د محمد سلیم د محمد رحیم د زوی او محمد کریم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0704223195

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د عبدالنافع د سردار محمد د زوی او د ذوالفقار د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700203529

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د بي بي عایشه د بازمحمد لور او د نظر محمد د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700958866

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د نصر الله د ملا عزیز الله د زوی او د ملا عبدالرحیم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0708923159

دورکي اعلانونه

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د حکمت الله توخي د عنایت الله د زوی او د عبدالسلام د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0704252990

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د محمدنعیم د سیدمحمد د زوی او د محمد نسیم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700353051

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د نصیب الله د امان الله د زوی او د عبدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0707660716

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د احمد جان د میراجان د زوی او د محمد میر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700153230

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د یاقوت الله د احمد شاه د زوی او علم شاه د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0708591220

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د محمد د ښایسته خان د زوی او فیض محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700319599

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د سردار علي د محمد عظیم د زوی او د محمد کرم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0702655196

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د عطاء محمد د سلطان محمد د زوی او د غلام محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0707018295

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د محمد ناصر توخي د تاج محمد د زوی او د محمد ایاز د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700931196

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د ندامحمد د نېک محمد د زوی او د دوست محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700761078

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د محمد قسیم د محمد یوسف د زوی او د حاجي دلبر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700303221

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د خلیل احمد د حاجي عبدالباري د زوی او د غلام محی الدین د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0709020761

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د دولت خان "مبشر" د محمد لعل د زوی او د ملا خان محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700528231

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د تورپېکۍ "عصمتي" د عصمت الله د لور او د عبدالغفور د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703471716

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د محمد سرور د عبدالحبیب د زوی او د محمد جان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0707365107

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د رحمت الله "نصرت" د عبدالرشید د زوی او د عبدالمجید د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0705064106

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د سعدالله د اختر محمد د زوی او د ولي محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0708697600

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د محمد سرور د عبدالرزاق د زوی او د عطاءالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700872631

❀❀❀

یوه قطعه بر ښنایي تذکره چي د ګلبدین د عین الدین د زوی او د امرالدین د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700315679

شعر او آدب

د طلوع رنګینې وړانګې

محبوب زعیم حفظه الله ته!

احمد "خاطري"

اې د رڼا، اې د ښکلا، اې د تقوا امیره!
دا مت برم ته یې روح او لکه ساه امیره!

اې د پنځلسم قرن د ستر امامت ستر امامه!
درپسې کړې مو پر په مینه اقتدا امیره!

د ګرندي عادلانه قضا هڅاند امیره!
د ملت زړونه دي خپل کړي دي په دا امیره!

د صحابیاتو نقش قدم باندي مؤمني ښځي
د دوی روزنه مسئولیت دی په رښتیا امیره!

د عدل سیوری دي راخپور پر مستضعف امت سه
په حال دردمنه د غزې او د اقصی امیره!

د اسلامي قانون د ښکلي بڼ مخلص مالیاره!
سپین امارت دي نمونه سه د دنیا امیره!

عرب، عجم درته په زړوکي ځولۍ هیلي ساتي
رب دي پوره کړي د دوی ټولو تمنا امیره!

پر شریعت استقامت دي لا پیاوړی سه نور
د "**خاطري**" پر خوله جاري درته دعا امیره!

غزل

احمد "بریالی"

په چا ترسیم د ژوند تابلو سي څنګه
ژوند د چا ستړی په مزلو سي څنګه

د ستړي درد له حاله پوه نه وي چي
داسي هر درد پر چا پېرزو سي څنګه

دغه موضوع ورته سرګمه وي چي
سړی له ژونده په سلګو سي څنګه

خپل د ژوند پل په کښي سم و نه ګوري
د بعضو ژوند د پېلبو سي څنګه

حمله اول پر خپل محسن کوي دا
بلا چي خپل پر کاله لو سي څنګه

چي پر تقدیر یې باور پوخ وي هله
روزي د خلکو په حملو سي څنګه

د زړه وکور ته چړیکي راسي دغه
ځای د بد خوندو مېلمنو سي څنګه

سودا د ژوند وړي "**بریالی احمد**" چي
د ژوند پر لار ځانګو ځانګو سي څنګه

مسـئول مـدیر: ــــــ بـریـالـی "فیـضي"
د تصـحیح مسئـول: ــــــ حاجي عبدالله "ذاکري"
خبریال: ــــــ بشـیر احمـد آغـا
کمپوز او ډیـزاین: ــــــ نصیر احمـد "صـابر"
د مـدیریت شمېره: ــــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزیع مدیریت شمېره: ــــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پتـه: ــــــ علامه حبیبي واټ – اطلاعات او فرهنګ ریاست
د برېښنالیک پته: ــــــ baryafaiz981@gmail.com

د ګډون کوونکو له پاره خبرتیا!

د طلوع افغان تاریخي خپرونه چي د هیواد په مطبوعاتي تاریخ کي ځانګړی ځای لري. که غواړئ چي د لمریز کال په آخرکي د طلوع افغان تاریخي ورځپاڼي یو بشپړ کلکسیون ولرئ، نو په طلوع افغان ورځپاڼه کي ګډون وکړئ.

د ګډون کلنی بیه ۵۰۰- پنځه سوه افغانی، زده کوونکو او محصلینو ته د تصدیق په وړاندي کولو سره نیمه بیه ټاکل سوې ده.

اداره

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کي د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هیله کېږي، چي دا سپېڅلي پاڼي بې ځایه و نه غورځوئ!

Established in 1300 Hijri | ISSue: 14 | Founded in 1921

اعلانونه او خبرتیاوي

سکواټر رانیسي

د کندهار ښاروالي غواړي چي د ۱۴۰۴ مالي کال، د انکشافي بودجې او تدارکاتي پلان پر اساس، د ترانسپورټ مدیریت له پاره، د یوې عرادې سکواټر خریدارۍ قرارداد تر سره کړي. علاقمندان دي خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۴ ل کال د جوزا میاشتي دا اووه ویشتمي نېټې څخه بیا د سرطان میاشتي تر شپاړسمي نېټې پوري، د ښاروالۍ ریاست، د تدارکاتو او قراردادونو آمریت اړوند، د تهیه او تدارکاتو عمومي مدیریت ته وسپاري، د یادي خریدارۍ شرطپاڼه او ضمایم هم له یاد مدیریت او هم د کندهار ښاروالۍ د رسمي ویب پاڼي څخه په سافټ شکل تر لاسه کولای سي. د دې خریدارۍ داوطلبي به د ۱۴۰۴ ل کال د سرطان میاشتي پر اوولسمه نېټه، د سه شنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د ټاکل سوي پلاوي په حضور کي، د تدارکاتو او قراردادونو په آمریت کي تر سره سي. علاقمند داوطلبان باید خپل آفرونه د تدارکاتو د قانون، کړنلارې او په شرطپاڼه کي له شرایطو سره سم، ترتیب او په سر تړلې توګه یې د داوطلبۍ د مجلس په ورځ او ټاکل سوي وخت، تعین سوي پلاوي ته تسلیم کړي. هغه آفرونه چي ناوخته را ورسېږي، د منلو وړ نه دي او د لا زیاتو معلوماتو له پاره دې پر ذکر سوو شمېرو اړیکه ونیسي:

0704707160 – 0707970760

د ښاروالۍ ریاست خبرتیا!

د کندهار ښاروالي غواړي د ښاري ماسټر پلان د تطبیق په منظور، د دوهمي او دریمي ناحیو اړوند، د کابل دروازې او د ښکارپور دروازې چوکونه پراخ کړي. ټول هغه اشخاص چي په ذکر سوو ساحو کي یې ملکیت تر استملاک لاندي وي، خبر ورکول کېږي، چي د روان ۱۴۰۴ ل کال د سرطان میاشتي تر پنځه ویشتمي نېټې پوري، د ملکیت شرعي او قانوني اسنادونه کندهار ښاروالۍ ته حاضر کړي، د اسنادونو د نه حاضرېدو په صورت کي مسئولیت د یادو اشخاصو پر غاړه دی او کندهار ښاروالي تر پورته ذکر سوي نېټې وروسته، عملاً په ساحه کي کار پیلوي.

دورکي اعلانونه

څه وخت وړاندي د عینو مېني د ملکیت یو سند چي د ناصر خان د عبدالحکیم د زوی په نامه دی، د ملکیت نمبر یې (109)، د موقعیت (A-55A) او د فایل نمبر (7328) ورک سوی دی. هر چا که پیدا کړی وي، دافکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او یا دې د ټیلیفون په دې شمیرو تماس ونیسي.

د تماس شمېرې: 0707543657 – 0700305088

❖❖❖

څه وخت وړاندي د عینو مېني د ملکیت یو سند چي د ناصر خان د عبدالحکیم د زوی په نامه دی، د ملکیت نمبر یې (105)، د موقعیت (A-55A) او د فایل نمبر (7327) ورک سوی دی. هر چا که پیدا کړی وي، دافکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او یا دې د ټیلیفون په دې شمیرو تماس ونیسي.

د تماس شمېرې: 0707543657 – 0700305088

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د صدام حسین د سید محمد د زوی او د سلېمان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0702915983

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د احمد شاه پوپل د نور شاه د زوی او د داؤد شاه د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0704271257

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د عنایت الله د مصطفی د زوی او د محمد اصغر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703200394

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د احسان الله "احسان" د حاجي محمد د زوی او د علي محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0708058764

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د سکندر شاه د سید عیسی د زوی او د سید نورشاه د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 078782878

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د محمد مهدي، د مصطفی د زوی او د محمد حسین د لمسي، بي بي فاطمه د بشیر احمد لور د محمد انور د لمسۍ، مصطفی د محمد حسین د زوی او د محمد اکبر د لمسي په نومونو دي، ورکي سوي، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 070767683

اعتبار نه لري

سلطان جان ولي لمیټېډ د (۱۲۵۷ – ۲۴) شمېرې جواز درلودونکی، چي رئیس یې جان محمد "شېرزاد" د ولي داد زوی او مرستیال یې سلطان محمد د ولي داد زوی دی، ورک سوی. د اعلان تر نشر وروسته د اعتبار وړ نه دی.

(۱) مخ پاته: د کندهار رواني ناروغانو...

مریضۍ درک مي نه و، د لته یې د ستوني او پزې عملیاتونه را وکړل."

د کندهار ولایت د شاولي کوټ ولسوالۍ د ویان د سیمي اوسېدونکی ۲۵ کلن خیرالله دې مرکز ته د پلار، ورونو او نورو دوستانو له لوري را وستل سوی و. خیرالله وویل، پخوا یې کار کاوه، خو وروسته د کورنیو جنجالونو له امله په رواني ناروغیو اخته سو، دی خوشحاله و، چي په دې مرکز کي یې ښه خدمت کېږي، د رې وخته ډوډۍ، درمل او اوبه ورکول کېږي او ناروغي یې د پخوا په پرتله ښه سوې ده.

ډاکټر شاه نور افغان په دې مرکز کي د رواني ډاکټر په توګه کار کوي، هغه د رواني ناروغ د نښو – نښانو په اړه راته وویل، رواني ناروغ نظافت نه مراعاتوي، په څه نه پوهېږي، شعور یې له لاسه ورکړی وي، حرکتونه او خبري یې نارمل نه وي.

د هغه په خبره، که څوک غواړي چي په رواني ناروغیو اخته نه سي، ځان دې په کار او کسب مصروف کړي او په کندهار کي یې د رواني ناروغیو د لویو لاملونو په اړه راته وویل: "لوی لاملونه یې دادي، چي زیات کسان په نشه یې توکو روږدي دي، بې کاري، اقتصادي ستونزي او بې سوادي ده."

د دې مرکز یو بل د رواني او عقلي ناروغیو ډاکټر محمد یونس سوکال وایي، په دې مرکز کي د ډیفرېشن، انزایټي، مانیا، شیرپیرنیا، سایکوزیس، فیلپسي یا د میرګي ناروغانو درملنه تر سره کېږي.

ډاکټر سوکال د دې مرکز څخه د جوړو سوو ناروغانو کورنیو ته د پیغام په توګه وایي، خپل ناروغ ته دې پر وخت درمل ورکوي، غذا دې ورته برابروي او مصروف دې یې ساتي، ترڅو بیا په رواني ناروغیو باندي اخته نه سي.

(۱) مخ پاته: پوروغتیایي مرکز...

مرکز د جوړېدو چاري د یو نیم کال په موده کي بشپړې سوې، چي د ۶ نارینه او ۴ ښځینه ډاکټرانو، امبولانس، زېږون، عمومي داخله، ماشومانو، نرسینګ، لابراتوار، فارمسي، اداري او هستوګني ځانګو په درلودلو سره روغتیایي چوپړتیاوي وړاندي کوي. د یادوني وړ ده، چي د اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره په ټول هیواد کي د پانګوني ښه زمینه برابره سوې او د هیواد ملي سوداګر په ډاډه زړه پانګونه کوي.

(۱) مخ پاته: د ملالي میوندۍ د...

فرهنګ وزارت د پلان او پالیسۍ ریاست رئیس قاري فدا محمد دوست، د ګرځندوی ریاست رئیس مولوي حاجي محمد طیب، د تاریخي آبداتو د ساتني او رغوني ریاست د رئیس انجنیر محمد حسیب نسیمي تر څنګ، تخنیکي او مسلکي ټیم هم شامل و.

د هغه په خبره، د یاد پلاوي له خوا د ملالي میوندۍ د مقبرې د ګنبدي جوړولو تر څنګ، د ګنبدي د حریم ساحې، د میوند د شهیدانو خلې، مقبرو او د باغ په تفریحي ساحه کي د سېلانیانو له پاره د ناستي د ځایونو او اړوندو نورو لازمو سهولتونو د برابرولو په موخه هم سروې تر سره سوې ده.

د یادوني وړ ده، چي د کندهار د اطلاعات او فرهنګ ریاست مسؤلین هڅه کوي، ترڅو په دې ولایت کي تاریخي ځایونه او آبدې بیا ورغوي.

دورکي اعلانونه

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د بخت محمد "محمدي" د محمد اشرف د زوی او د حاجي نور محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0708672995

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د محمد یونس د محمد جان د زوی او د اختر محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700780486

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د عبدالباقي د عبدالهادي د زوی او حاجي لعلو د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700312943

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د محمد عزیز د احمد ولي د زوی او حاجي محمود د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0708621929

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د محمد نسیم د محمد رحیم د زوی او د محمدولي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703693815

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د عبدالصمد د اختر محمد د زوی د کریم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0705547232

❖❖❖

یوه قطعه بر برېښنایي تذکره چي د ملا جان آغا د حاجي فیض محمد د زوی او د حاجي محمد عمر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0706824875

ټولنیزي رسنۍ

نعمت الله "شاکر":

وړیا او اړینه مشوره!

د ښه ژوند کولو له پاره اړینه ده، چي ښه کورنۍ، ښه دوستان، ښه خدمات او ښه عایدات ولرئ!

۱ – د ښې کورنۍ جوړولو له پاره په کار ده، چي د ښه فامیل څخه ښه نجلۍ انتخاب کړئ او په ښه توګه د خپلي نکاح او واده مراسم تر سره کړئ او له خپلي مېرمني سره داسي ژوند جوړ کړئ، چي هغه بې له تا ځان هیڅ وګڼي او تاسو له هغې پرته، د بې روحه جسد احساس ولرئ.

۲ – د ښو دوستانو لرلو له پاره پکار ده، چي د دوستۍ پر ټاکلو معیارونو برابر دوستان او ملګري انتخاب کړئ او د اعتدال په چوکاټ کي له هغوی سره اړیکي وساتئ او وپالئ.

۳ – د ښو عایداتو لرلو له پاره په کار ده، چي داسي کار او فعالیت انتخاب کړئ، چي هم مو د ذوق مطابق وي او هم یې په ټولنه کي ښه تقاضا موجوده وي.

حامد افغان:

عمر بن عبد العزیز رحمه الله ویلي:
الله تعالی ته درې کارونه ډېر خوښ دي:
۱ – د قدرت پر مهال بخښنه.
۲ – د شتمنۍ پر مهال، منځلاري.
۳ – په عبادت کي نرمي، منځلاري او افراط نه کول.

روضة العقلاء (صـ١٦٧)

لئو تولیستوی:

هیڅوک له خپلي ورځي او حالته راضي نه دي، خو ټول له خپل عقل او پوهي راضي دي.

Aliullah Mutawakil:

شیخ نن بېخي خوندوري خبري وکړې (د مشکلاتو د حل نسخه یې را وښووله!)

ویل: کله چي مي کوم کار بند سي، یا ستونزو کي را ګیر سم، یا مي ذهن ګډ – وډ سي، نو خپله هم دعا کوم او خپلي مور ته هم وایم چي دعا راته وکړي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابي العلاء الحضرمي په طریقه یې وکړي.

هغه به دوه رکعته نفل وکړل، بیا به یې لاسونه پورته کړل او په دعا کي به یې دا الفاظ وویل:

یا حلیم، یا علیم، یا علي، یا عظیم
دعا به یې قبوله سوله.

یو وخت یې لښکر له تندي سره مخ و، دوه رکعته نفل او په دعا کي یې دا الفاظ وویل. باران شروع سو، دوی او حیوانان یې اوبه سول او لوښي یې له اوبو ډک کړل.

نوټ: چي یو وار لمونځ وسي، بیا د الله جل جلاله په مبارکو نومونو دعا وسي او بیا مور دعا درته وکړي، نو ته وا څومره به ګټوره وي؟

دوهم نوټ: اسباب برابر کړه، پر الله جل جلاله توکل وکړه، د الله تعالی مرسته وغواړه او بسم الله کړه. کارونه به ټول سم سي.